د ستراتیژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

ګڼه: 408

(6 غبرګولی – 12 غبرګولی 1402 هـ ش)

## د هلمند سیند له حقوقي ونډې څخه تر سیاسي خیانته؛ ننګونې او فرصتونه



دا نشریه د افغانستان او سیمې د مهمو سیاسي، امنیتي، اقتصادي او ټولنیزو پېښو د تحلیل اوونیزه خپرونه ده چې د ستراتیژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز له لوري په پښتو، دري، انګلیسي او عربي ژبو چمتو کېږي او خپرېږي.

## په دې ګڼه کې لولئ:


- د هلمند سیند له حقوقي ونډې څخه تر سیاسي خیانته؛ ننګونې او فرصتونه ........................... 3
- سریزه ................................................................................. 3
- د افغانستان هیدرو پولیټیکل ځای ..................................................... 4
- د هلمند سیند له جغرافیایي حد څخه تر قانوني ونډې پورې ................................. 5
- د هلمند سیند په اړه د وروستیو تاوتریخوالی عوامل ......................................... 6
- د وچکالۍ او اقلیم پېښې: ............................................................ 6
- د هلمند سیند د پولو دواړو غاړو ته د نفوسو پراخوالی: ...................................... 7
- اقتصادي پراختیا: .................................................................... 7
- د ایران حکومت د حد څخه زیاتې غوښتنې: ............................................... 8
- د ایران د خړوبولو په هدف په سیستان او بلوچستان کې د اوبو د کمښت بهانه: ......................... 8
- د هلمند سیند څخه د ګټې اخیستنې په برخه کې ننګونې او فرصتونه ............................... 9
- ننګونې................................................................................. 9
- فرصتونه.............................................................................. 10
- پایله ................................................................................ 10
- سرچینې ............................................................................. 11


Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

## د هلمند سیند له حقوقي ونډې څخه تر سیاسي خیانته؛ ننګونې او فرصتونه

### سریزه

له کومه چې پدې وروستیو کلونو کې د اوبو د کمښت او وچکالۍ مسئله په نړیواله کچه د اندېښنې وړ ګرځېدلې ده، د نړیوالو سازمانونو او هېوادونو پام یې ځان ته اړولی چې پرله پسې اقدامات وکړي. نن ورځ د اوبو کمښت په ټولو سیمو کې د پام وړ دی او په یوه جنجالي مسئله بدله شوې؛ په ځانګړې توګه په دې ورځو کې د افغانستان او ایران د اسلامي جمهوریت ترمنځ په یوه سیاسي لانجمنه موضوع ګرځېدلې ده.

څرنګه چې په دې ورځو کې د ایراني او افغان چارواکو ترمنځ لفظي غبرګونونه د ملي او سیمه ییزو خبرونو په سرلیکونو کې وو. د ایران ولسمشر ابراهیم رئیسي سیستان او بلوچستان ولایت ته د خپل سفر په ترځ کې د هلمند سیند د حقابې په اړه د اسلامي امارت حکومت ته په لاندې ډول خطاب وکړ: "زه د افغانستان واکمنانو ته وایم چې زما خبرې دې عادي نه ګڼي، بلکې په جدي توګه دې واخلي؛ زه د افغانستان چارواکو او واکمنانو ته خبرداری ورکوم، چې د سیستان او بلوچستان د سیمې او خلکو حقونه دې ژر تر ژره ورکړي." خو د اسلامي امارت ویاند ذبیح الله مجاهد د ولسمشر رئیسي، د سختو الفاظو په غبرګون کې هغه ته په خطاب کې ویل چې د پوهاوي نشتوالی او د نامناسبو الفاظو کارول د دواړو هېوادونو سیاسي او ګاونډیتوب ته زیان رسولی شي.

تر دې وړاندې په ۱۴۰۰ هجري لمریز کال کې کله چې د کمال خان بند د افغانستان د پخواني ولسمشر محمد اشرف غني له خوا پرانیستل شو او ګاونډیو هېوادونو ته د افغانستان د اوبو د وړیا جریان د مخنیوي ادعا یې وکړه، د ایراني چارواکو غبرګونونه یې هم راپارولي وو. اوس د هلمند په سیند کې د ایران د اوبو د حق په اړه د ایراني چارواکو غبرګونونه په داسې وخت کې د زیاتیدو په حال کې دي چې د افغانستان حکومت او خلک په ټول هېواد کې په ځانګړې توګه له ایران سره په سرحدي ولایتونو کې له وچکالۍ څخه شکایت کوي. حتی چې د اوبو د ٪۵۰ وچیدو راپورونه ورکړل شوي دي.

له بلې خوا، ملګرو ملتونو په نړۍ کې د اوبو د بحران په اړه په خپل 2023 م کال راپور کې خبرداری ورکړی چې د نړۍ شاوخوا ٪ 26 نفوس د څښاک پاکو اوبو ته لاسرسی نلري او شاوخوا ٪ 46 نور خلک منظم خدماتو او خوندي حفظ الصحې ته لاسرسی نلري.

همدارنګه، د چاپیریال ساتنې نړیوال سازمان (IUCN) په دې وروستیو کې په خپل ټویټر اعلان وکړ چې په تېرو لسو کلونو کې د سمندر د تودوخې څپې ٪ 50 زیاتوالی موندلی.



Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

په دې لیکنه کې د افغانستان هایډرو پولیتیکل وضعیت، د هلمند سیند له جغرافیې موقیعت تر قانوني ونډې پورې، د هلمند سیند پر سر د وروستیو تاوتریخوالو عوامل او په پای کې هغه ننګونې او فرصتونه چې له ایران او افغانستان پر مخ د هلمند سیند په تړاو شتون لري، هغه مسایل دي چې پرې بحث او څېړل شوي دي.

### د افغانستان هیدروپولیتیکل ځای

افغانستان یوه غرنۍ او په وچه کې حصاره ځمکه ده چې د آسیا په زړه کې د شمالي نیمه کره او ختیځې نیمه کره کې موقعیت لري. دغه هېواد له ګاونډیو هېوادونو سره شاوخوا ۵۸۰۰ کیلومترو ګډې پولې په درلودو، په شمال کې شاوخوا ۲۳۸۴ کیلومتره د منځنۍ آسیا له هېوادونو سره، له ختیځ او سویل سره ۲۲۴۰ کیلومتره له پاکستان سره، له چین سره په شمال ختیځ کې له ۷۳ څخه تر ۹۳ کیلومتره، او بالآخره له ۸۵۵ تر ۹۳۰ کیلومترو پورې په لویدیځ کې له ایران سره ګډه پوله لري. د افغانستان د خاورې لویه برخه په شمال او شمال ختیځ کې غرونو او ډېرو پوښلې او دا لوړ غرونه؛ لکه: د پامیر او هندوکش چې حتی د دوبې په ګرمۍ کې هم یې لوړې څوکې په واورو پوښلي وي چې دا په دې هېواد کې د لویو سیندونو د بهیر لامل شوی.

په افغانستان کې د اوبو څخه د سمې ګټې اخیستنې، اسانتیاوو او ظرفیت د نشتوالي له امله د پراخو او خوړو اوبو د سیندونو جریان او د دې هېواد د اوبو کنټرول ته د ګاونډیو هېوادونو ځانګړې پاملرنه راجلب کړې ده. نو له یوې خوا د افغانستان ګډې پولې سبب شوی چې د اوبو د سم مدیریت په اړه د دغه هېواد او د هغه د ګاونډیو حکومتونو ترمنځ لفظي شخړه رامنځته کړې ده. له بلې خوا په افغانستان کې پرله پسې کورنۍ جګړې حکومت او خلکو ته دا فرصت نه دی ورکړی چې خپلې اوبه په سمه توګه مدیریت کړي. د دغو اوبو د مدیریت نشتوالي او په افغانستان کې د څو لسیزو جګړو په ترڅ کې د ګاونډیو هېوادونو له خوا له دغو څپانده سیندونو څخه بې توپیره کار اخیستل د دغه هېواد د سرحدي اوبو د قانوني ونډې په اړه د ګاونډیو هېوادونو د حکومتونو نظرونه بدل کړي دي، ځکه د شمېرو له مخې د افغانستان شاوخوا ۷۵ سلنه اوبه ګاونډیو هېوادونو ته بهېږي. په افغانستان کې جګړې، ناامنۍ او د اوبو د سرچینو ناسم مدیریت د دې لامل شوی، چې دغه هېواد ګاونډیو هېوادونو ته د ۵۰ میلیاردو ډالرو په ارزښت د اوبو د بهیدنې سربېره، خپله د اړتیا وړ بریښنا له ازبکستان، ترکمنستان، تاجکستان او ایران څخه د پېرلو لپاره په کال کې ۳۰۰ میلیونه ډالره نور مصرفوي.

له بلې خوا، دا ناشوني نه ده چې اوبه په ننني نړۍ کې د شتمنو او بې وزلو تر منځ یو له خورا څرګند سرحدونو څخه وي. د دې پر بنسټ په شمالي امریکا کې د یو کس د ورځني مصرف منځنۍ اندازه ۴۰۰ لیټره ده او په اروپا کې دا اندازه په ورځ کې ۲۰۰ لیټره اټکل شوې، په داسې حال کې چې پر مخ ودې هېوادونو کې دا اندازه په اوسط ډول له ۱۰ لیټرو څخه نه زیاتیږي. پدې اټکل سره، په بډایه هېوادونو کې د اوبو مصرف د غریب هېوادونو په پرتله لوړ دی. له بلې خوا، د ځنباک اوبو د ککړتیا پدیده هم د فاضله موادو یا فابریکو پاتې

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

شوني مواد د سمندرونو او د خوړو اوبو نورو سرچينو ته د ورتلو له امله په غريبو سيمو کې خورا پراخه ده. او د نړيوال روغتيا سازمان د راپور له مخې، د نړۍ د ناروغيو ځلورمه برخه د څښاک ککړو اوبو ته منسوب کېدی شي.

له بلې خوا، کلونه مخکې له نن څخه په کال (۱۹۹۵) م کې د نړيوال بانک مرستيال خبرداری ورکړی و، چې راتلونکې جګړې به د اوبو پر سر وي نه د تېلو! همدارنګه نظريه پوهانو د اوبو د سرچينو په اړه د لوړو او ټيټو هېوادونو ترمنځ د شخړو د رامنځته کېدو له امله 21 مه پېړۍ "هايډرو پوليټيکل پيړی" بللې.

له همدې امله وروستي بدلونونه، د افغانستان د ګاونډيانو غبرګونونه او د اوبو د حقونو تر عنوان لاندې په دې هېواد کې د خلکو د وضعيت په اړه د دوی بې غوري د همدې باور زمينه برابروي، چې ويل کېږي د څو لسيزو راهيسې په افغانستان کې جګړې، د اوبو جګړې دي او ګاونډيان نه غواړي چې افغانستان يو باامنه، نسبي يا لړه ټولنيزه هوساينه او يا هم سياسي ثبات ووينې.

### د هلمند سيند له جغر افيايي حد څخه ترقانوني ونډې پورې

د هلمند سيند د افغانستان او آسيا يو له لويو او له اوبو ډک سيندونو څخه شمېرل کېږي، چې هر کال په ميلياردونو متر مکعب اوبه پکې بهيږي. دغه سيند د کابل لوېديځ په ځلوېښت کيلومترۍ کې د بابا د غره له لوړو څوکو او په افغانستان کې د هندوکش د غره له لړۍ څخه سرچينه اخلي د افغانستان له ختيځ څخه تر ۱۱۰۰ کيلومتره واټن وهلو وروسته لوېديځ ته ځغېږي او د کمال خان بند په سيمه کې شمال لوېديځ ته تمايل پيدا کوي او د زابل سويل ختيځ ته په 36 کيلومترۍ کې، د هامون جهيل ته ننوځي، چې د افغانستان او ايران ترمنځ يو ګډ جهيل دی. د يادولو وړ ده چې د افغانستان او ايران د پولو په اوږدو کې ۱۸۰ بيلرونه نصب دي چې ۹۰ بيلرونه يې د ذوالفقار له غره څخه د شينډنډ تر څنډو (شمال څخه تر جنوب) پورې او نور ۹۰ بيلرونه له رباط جلی څخه د مکمهن د کار پايه (له جنوب څخه شمال ته) مشخص کوي او د هلمند سيند د کمال خان بند څخه د تېرېدو وروسته، د افغانستان او ايران پولې ته نږدې 70 کيلومتره موازي بهيږي او له 51 م بيلر(پايه) وروسته د افغانستان او ايران ګډه پوله جوړوي او دا پوله د ۲۷ کيلومترو په اوږدوالي سره تر ۵۴ م پايه پورې ځغېږي، چې په دې اساس ايران د هلمند سيند په ۱۱۵۰ کيلومترۍ اوږدوالی کې يوازې له افغانستان سره ۲۷ کيلو متره شريک دی. د دې په اساس، د ايران هېواد د هلمند سيند جغرافيايي حد له مخې يوازې په ۲ څخه تر ۲.۵ سلنه برخه کې حق لري.

د دې سيند د حقوقي بحث په اړه بايد وويل شي چې تقريباً يوه پېړۍ له څو کلونو راهيسې د افغانستان او ايران تر منځ منظم يا غير منظم بحثونه شوي او تړونونه لاسليک شوي دي، خو په هېڅ يوه پخواني تړون کې کلي تړون موجود نه و او وروسته يو ځل بيا ستونزمن شوی. په پای کې، وروستی تړون د ۱۳۵۱ هجري لمريز کال تړون دی چې دواړو لوريو پرې هوکړه کړې او تل يې پر تطبيق ټينګار کوي.


Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

د هلمند سیند تړون په ۱۳۵۱ هجري لمریز کال کې د افغانستان د صدراعظم موسی شفیق او د ایران د صدراعظم امیر عباس هویدا ترمنځ لاسلیک شو. دغه تړون په یوه سریزه، دولس مادې او دوه پروتوکولونو مشتمل دی چې د ایران د اوبو د حق د لومړۍ او دوهمې مادې له مخې په عادي اوبه ایز کال کې (چې د اکتوبر له لومړۍ نېټې څخه د راتلونکي کال د سپټمبر تر پایه د اوبو ټول جریان دی چې د هلمند سیند د دهراوود د هایدرولوژیکي وسیلې په اساس شاوخوا ٦ میلیارده او ۵۰۰ میلیونه متر مکعبه اوبه جوړوي) او مافوق اوبه ایز نورمال کال په یوه ثانیه کې ۲۲ مکعب متره د ډیلټا کمیسیون پر بنسټ او ۴ متر مکعبه د حسن نیت او ورورګلوۍ پر بنسټ چې په ټولیز ډول په یوه ثانیه کې ۲٦ متر مکعب او په یوه کال کې ۸۲۰ میلیون متر مکعب اوبو اټکل شوي چې د تړون له مخې به یې افغانستان څخه ایران ته ورکول کېږي.

همدارنګه د دغه تړون د څلورمې، پنځمې او یوولسمې مادې له مخې، که افغانستان د اوبو حق ایران ته وسپاري، کولای شي چې د هلمند سیند د پاتې اوبو د ټولو حقونو په ساتلو سره په هر ډول چې وغواړي ګټه واخلي. او د اقلیمي پېښو په صورت کې که د اوبو د جریان اندازه د عادي اوبه ایز کال په پرتله کمه وي، یا سخته وچکالي د هلمند ډیلټا ته د اوبو رسولو لپاره په مؤقتي توګه ناممکن کړي؛ په دې صورت کې به د دواړو خوا کمېشنران ژر تر ژره د ستونزو د حل او کمولو لپاره لازم پلان جوړ او خپلو اړوندو حکومتونو ته به یې وړاندیز کوي. او د دوهم پروتوکول په پنځمه ماده کې راغلي چې که دولتونه د منځګړیتوب د بورډ په نتیجو او سپارښتنو راضي نه وي، د شخړې نقطې یا ټکي دې د دریېو غړو څخه جوړه شوې محکمې ته وسپاري او که دواړه اړخونه د دریېم غړی یا د منځګړیتوب مشر ټاکلو کې د دریېو میاشتو لپاره موافقې ته نه وی رسیدلي. دواړه خواوې یا یو خوا به د ملګرو ملتونو له عمومي منشي څخه د دریېمي پریکړې د ټاکلو غوښتنه کوي.

نو د دې تړون له مخې، د اوبو حقونه په مختلفو وختونو کې؛ لکه: وچکالي، اقلیمي پېښې یا نورې شخړې چې ستونزې رامنځته کوي روښانه دي. په دې تړون کې د حل لپاره مناسبې لارې په پام کې نیول شوې دي. نو د ایران او افغانستان د واکمنانو تر منځ د لفظي شخړو لاملونه څه دي، په لاندې عنوان کې به پرې بحث وکړو.

### د هلمند سیند په اړه د وروستیو تاوتریخوالی عوامل

**د وچکالي او اقلیم پېښې:** وچکالي او په ټوله نړۍ کې د اوبو راتلونکی بحران یوه لویه ستونزه ده چې انسانیت یې پر مخ لري او هېڅوک نشي کولی چې له دې حقیقت څخه انکار وکړي. لکه څنګه چې ملګرو ملتونو د ۲۰۲۳ کال په راپور کې وچکالي د اوبو د کمښت لامل ګڼلی، دا په نړۍ کې د اوبو د کمښت د زیاتوالي یو تور انځور وړاندې کوي او د ملګرو ملتونو په راپور کې دا هم راغلي چې په تېرو څلورو لسیزو کې د نړۍ د اوبو مصرف هر کال شاوخوا یو سلنه زیات شوی دی.

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

له بلې خوا د امریکا په متحدو ایالتونو کې د «ورلډ ریسورس انستیټیوټ» څېړنیز مرکز (WRI) په یوه راپور کې چې په ۲۰۱۸ کال کې خپور شوی، افغانستان د وچکالۍ د لوړ خطر په کټګورۍ کې ځای کړی دی.

بل خوا د ملګرو ملتونو د ماشومانو وجهي صندوق (یونیسف) په ۲۰۱۷ کال کې په یوه راپور کې ۵۰۰ زره افغان ماشومان د وچکالۍ او باران نشتوالي له امله له خطر سره مخ ګڼلي وو. همدارنګه د افغانستان حکومت په همدې (۲۰۱۷) کال کې اعلان وکړ چې د وچکالۍ له امله د افغانستان د سطحې اوبه ۵۰ سلنه کمې شوې او تر ځمکې لاندې اوبه په ټول افغانستان کې اته مترو ته ښکته تللې دي.

نو پدې اساس هېڅوک نه شي کولای چې د دې ټولو چاپيريالي بدلونونو تأثيرات د هلمند سیند لپاره عادي وبولي او لدې حقیقت څخه سترګې پټې کړي چې البته د هلمند سیند د اوبو د کمښت په اړه د افغانستان د اسلامي امارت د حکومت اعلامیه دا موضوع تأییدوي.

**د هلمند سیند د پولو دواړو غاړو ته د نفوسو پراخوالی:** د نفوسو د زیاتوالي مسئله په ټوله نړۍ کې یوه بله نه انکار کېدونکې مسئله ده چې له استثنا پرته ټول هېوادونه ورسره لاس او ګرېوان دي او د هلمند سیند په اوږدو کې د پولې دواړه خواوې به له دې قاعدې مستثنا نه وي. د نفوسو د شمېرو له مخې په ۱۳۵۵ هجري لمریز کال کې د سیستان او بلوچستان ولایت نفوس ۶٦۰ زره تنه وو او اوس که څه هم ویل کېږي چې هلته مهاجرتونه شوي دي خو د سیستان او بلوچستان د ملکي ثبت اداري عمومي رییس لخوا په ۱۴۰۱ هجري لمریز کال کې د راپور له مخې، د ایران د نفوس وده له یو سلنې څخه کمه ده، چې په سیستان او بلوچستان کې ٪ 2.24 ته او د هېواد په نفوس کې د ولایت برخه ٪ 3.76 ده چې نفوس یې 3 میلیون 195 زره او 999 تنو ته رسېږي.

نیمروز ولایت چې له ایران سره پر پوله پروت دی، د افغانستان یو له بې وزلو او کم نفوسه ولایتونو څخه ګڼل کېږي، خو نو شو کولای چې په دغه ولایت او له ایران سره د افغانستان د نورو سرحدي ولایتونو نفوس له پامه وغورځوو. له همدې امله، کله چې نفوس په هېواد کې وده کوي، د اوبو مصرف هم زیاتیږي. په لوړو سیمو کې د اوبو د مصرف په زیاتوالي سره، په لاندې سیمو کې پاتې اوبه حتی که د نفوسو کافي اندازه هم ولري، په طبیعي توګه اوبه نشي کولی د پخوا په څېر یا څو لسیزې مخکې غوندې د سیمې د خلکو اړتیاوې پوره کړي.

**اقتصادي پراختیا:** کله چې اقتصادي پراختیا د خلکو د ژوند کیفیت له ښه والي سره مستقیمه اړیکه لري، نړیوال سازمانونه د خلکو د ژوند کیفیت ښه کولو لپاره دوی د بشري پرمختیا شاخص معرفي کوي، چې لویه برخه یې په یو هېواد کې د سړي سر عاید زیاتوالی دی. د ملګرو ملتونو د بشري پراختیا د راپور له مخې هر کال زرګونه کسان په ځانګړې توګه ماشومان د ناپاکو اوبو د کارولو له امله مري. په دې ډول رپوټونو کې د اوبو د کمښت بحران او د غیر صحي اوبو کارول په پرمختللو هېوادونو کې د پرمختګ پر وړاندې یو له جدي


Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

ننګونو څخه ګڼل کېږي. له همدې امله د هلمند سیند په ترون کې دواړو خواوو ته د خپل اقتصادي پرمختګ (د ژوند د کیفیت د ښه والي)، د بې وزلۍ د کمولو، د بشري پراختیا، د کرنې د سکتور د پراختیا، د انرژۍ د تولید او اقتصادي انسجام په برخو کې زیاتو اوبو ته اړتیا لري او دا به د حکومتونو لخوا په بشپړ ډول کنټرولول ستونزمن وي، ځکه چې هر بزګر یا باغدار د خپلې ځمکې یا سیمې اوبه ساتي، چې بې له شکه سیندونه به د اوبو له کمښت سره مخ شي.

**د ایران حکومت د حد څخه زیاتې غوښتنې:** د افغانستان په هلمند سیند کې د انرژۍ او اوبو د کمېشنرانو د څرګندونو له مخې، دغه هېواد د لسیزو جګړو او پراخو ناامنیو په ترڅ کې نه دی توانېدلی چې خپلې اوبه مدیریت کړي او دا کار د دې سبب شوی چې د ایران د اسلامي جمهوریت حکومت د هلمند سیند د اوبو له خپل حقوقو څخه زیاته ګټه پورته کړي. لکه څنګه چې د افغانستان د انرژۍ او اوبو وزارت د سرحدونو د اوبو لوی حقوقي سلاکار اسدالله میلاد له طلوع نیوز سره په خبرو کې وویل: په ۲۰۲۲ کال کې د دواړو هېوادونو د کمېشنرانو ترمنځ د خبرو اترو د ۲۵مې دورې په غونډه کې چې په ایران کې ترسره شوه، په ښکاره توګه ثابته شوه چې ایران هر کال د خپلو اوبو له حق څخه زیاته ګټه پورته کوي. د هغه په وینا، په افغانستان کې د څو لسیزو جګړو پر مهال د هلمند سیند له اوبو څخه د ایران بې توپیره استفادې ایران په دې روږدي کړی چې له خپلې قانوني ونډې څخه زیاته استفاده وکړي. په همدې حال کې جواد ظریف په یوه ټلویزیوني مرکه کې د هلمند سیند له اوبو څخه د ایران زیاتې استفادې د سېلابونو سره توجیه کړې وه. نو له دې څخه جوته شوه چې ایران په افغانستان کې ګډوډ حالت یو فرصت ګڼي او غواړي چې د څو لسیزو په اوږدو کې د هلمند سیند څخه خپلې یو اړخیزې استفادې ته قانوني بڼه ورکړي.

**د ایران د خړوبولو په هدف په سیستان او بلوچستان کې د اوبو د کمښت بهانه:** د راپورونو له مخې په سیستان کې څلور لوی نیم کوهیان (مصنوعی کوهیان) شته چې د هلمند سیند یوه برخه د کانالونو په واسطه هغې ته بهیږي او دا لوې کندې د 1500 میلیون متر مکعب اوبو ظرفیت لري چې د اوبو د کمښت په وخت کې د څښاک او کرنې لپاره کارول کېږي.

د سیستان او بلوچستان د مدیریت او پلان جوړونې د اداري د مشر له خوا د ورکړل شویو شمېرو پر بنسټ، په سیستان او بلوچستان کې د اوبو ۲۲ زره سرچینې شته چې له دې جملې څخه څه باندې ۱۹ زره او ۴۵۰ یې ژورې او غیر ژورې څاه ګانې دي او د ځمکې لاندې د اوبو ایستلو اندازه یې دوه ملیارد مکعب متره دی او له بلې خوا هغه زیاتوي چې د سیستان او بلوچستان ولایت په مرکز او جنوب کښې څه د پاسه ۱۲۰۰ کاریزونه شتون لري چې زیاتره یې د سیندونو په غاړه دي، او له 300 څخه تر 400 میلیون متر مکعبه اوبه ورڅخه اخیستل کېږي.

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

په داسې حال کې چې په سیستان او بلوچستان کې نفوس څلور میلیونو تنو ته نه رسېږي، خو په دغه ولایت کې د اوبو ډېری سرچینې او دغه ستري زیرمې شتون لري. دغه منابع د سیستان او بلوچستان د خلکو د موجوده سرچینو څخه علاوه دي نو په دې باور معلومېږي چې د ایران اسلامي جمهوریت حکومت په سیستان او بلوچستان کې د اوبو د کمښت په لټه کې نه دی، بلکې د هغه سیندونو د کثرت په لټه کې دی چې له دغه ولایت څخه تېرېږي.

### د هلمند سیند څخه د ګټې اخیستنې په برخه کې ننګونې او فرصتونه

د پورتنیو بحثونو له مخې ویلای شو چې د هلمند سیند اوسنی واقعیت د دواړو هېوادونو د حکومتي چارواکو په تېره بیا د ایران د حکومت چارواکو د لفظي شخړو تر څنګ، که مدیریت ونه شی، له ننګونو او لانجو سره به مخ شي. د دې کړکیچونو په شاوخوا کې مسؤول عمل له همدې امله په دې برخه کې، موږ به هڅه وکړو چې خپلو لوستونکو ته د ننګونو تر څنګ ممکن فرصتونه وړاندې کړو:

### ننګونې

- لکه څنګه چې د کلونو راهیسې د هلمند سیند د اوبو د غیر عادلانه ویش په اړه شکونه شتون لري، که هر څومره دا لفظي خبرې اترې دوام ولري، نه یوازې دا چې حل به یې ونه موندل شي، بلکې دا کړکیچ په ځینو مواردو کې د دواړو هېوادونو د سرحدي شخړو لامل هم شوی دی چې د دواړو غاړو خلکو ته زیان رسوي. له بلې خوا د پولې اوسېدونکو ته ځاني او مالي زیانونه اوړي او د هغوی فقر او بدبختي زیاتوي.
- لکه څنګه چې د هلمند سیند د اوبو پر سر د مناقشې دواړه خواوې خبر دي، ښکیل اړخونه هېڅ یو مناسب او د قناعت وړ اقتصادي وضعیت نه لري، بناً د لفظي تاو تریخوالي، سختو او نامناسبو ویناوو او همدارنګه د سرحدي شخړو له امله ممکن د دواړو خواوو په سوداګریزو اړیکو او په پایله کې به یې د دواړو هېوادونو پر اقتصاد منفي اغېز وکړي.
- د ایران او افغانستان ترمنځ د لفظي شخړو دوام به د بدبینۍ احساس رامنځته کړي او د دواړو هېوادونو ترمنځ ډیپلوماتیکې اړیکې نورې هم خړې پړې کړي او د دې به سبب شي چې د دواړو دولتونو لپاره متعصب هېوادونه له دغو کړکیچونو او احساساتي خبرو څخه ګټه پورته کړي، چې په پایله کې به دوه ورونه او مسلمان هېوادونه د سیمې د لوبو ډګر شي.
- په دې وروستیو کې د دواړو هېوادونو له خوا د ۱۳۵۱ کال د تړون د نه عملي کېدو، له احساساتي او عاطفي خبرو سره؛ دا به دواړه هېوادونه په اوږدمهاله جګړه کې راګیر کړي او له دواړو خواو څخه به سوله او راحت په داسې ډول واخلي چې د جګړې ګټونکی او بایلونکی به معلوم نه وي چې حتما به دغه دواړو ګټونکي نه وي.

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

## فرصتونه

د ننگونو سره سره، داسې فرصتونه هم شتون لري چې د هلمند د پولې دواړو غاړو ته د ښکيلو خواوو د رضايت لپاره مناسب حل کيدی شي:

- د هلمند د اوبو د حق د ستونزې د حل لپاره لومړی فرصت به د دواړو هېوادونو له خوا د ۱۳۵۱ لمريز کال د هلمند سيند د تړون تطبيق وي، څکه پورتني تړون هر اړخيز دی، چې په مناسب وخت کې ورته مراجعه به هر ډول اندېښنې او د هلمند سيند د اوبو غير عادلانه ويش په اړه بې باوري حل کړي.
- د هلمند سيند په اړه له زور او اخطار څخه ډډه کول او د هلمند سيند د عادلانه ويش په اړه د سوله ايزو خبرو اترو لپاره لار هواره ول به د دواړو هېوادونو ترمنځ د سياسي اړيکو او سوداګريزو توکو په تبادله کې مثبته اغېزه وکړي او د دواړو هېوادونو د پرمختګ سبب به ګرځي.
- دا د دواړو هېوادونو لپاره يو لوی او بې ساری فرصت دی چې دواړه ګډ ارزښتونه، ګډه ژبه، ګډ دين او ګډ دښمن لري. له همدې امله دواړو ډلو ته لازمه ده چې له دغو فرصتونو څخه په پوره ډاډ سره سمه ګټه پورته کړي او له يو بل سره په همکاری او همغږۍ کې ستونزې او بنديزونه له منځه يوسي.
- يو بل ربښتينی حقيقت دا دی چې وچکالي او د اوبو نشتوالی يوه نړيواله ستونزه ده او د کارپوهانو د نظرونو له مخې، اوبو ته د لاسرسي پر سر جګړې به ډېرې لرې نه وي او د دوو وروڼو او مسلمانو هېوادونو تر منځ د دې جګړې پيلول يو بد او نه ښونکی کار دی؛ څکه چې د هغې لوی تاوان به نه يوازې د دولتونو لخوا ادا کېږي، بلکې د وقار په توګه به واکمنان په څمکو کې د ملتونه نظرونو او باورونو سره معامله وکړي.
- په دې وروستيو کې د ايران او افغانستان په اړه يو شمېر کارپوهان په دې باور دي چې د حل يوه ممکنه لاره دا ده چې ايران له افغانستان اوبه په قيمت راونيسي او يا د تېلو په بدل کې له افغانستانه اوبه واخلي، البته دا هغه مسئله ده چې په پټو او ښکاره غونډو کې د ايراني شخصيتونو او افغان کارپوهانو له خوا څو ځلې راپورته شوې ده.

## پايله

که څه هم د ايران او افغانستان اسلامي جمهوريت د دوو جلا حکومتونو له خوا په مختلفو سياستونو سره اداره کېږي، ولې په دې کې شک نشته چې د ايران او افغانستان خلک ګډ نظرياتي، کلتوري او تاريخي ارزښتونه لري چې د دغو دوو هېوادونو او د دوی مشترکه جغرافيه د نړۍ يو ستر او مشهور تمدن بلل کېږي. دا د توجه وړ ده چې د دې دواړو هېوادونو حکومتونه په هره وينا کې دا تاريخي حقيقت او د تمدن مشترکات درک کړي. له بلې خوا افغانستان چې له ډېرې اوبه او څپانده سيندونه لرونکی دی، خو بيا هم د هلمند له سيند سره په پوله پرتو ولايتونه د ورځې له يو ساعت څخه زياته برېښنا نه لري، په ورته وخت کې دغه ولايتونه

د بې وزلۍ او بدبختۍ په اوج کې دي. دا مهال چې افغانستان له ګڼو ستونزو سره لاس او ګرېوان دی، تمه کېږي چې ګاونډي هېوادونه به د اوسني وضعيت په عادي کولو او افغانستان له سياسي انزوا څخه د وتلو په برخه کې همکاري وکړي، نه دا چې اوږدمهاله ستونزې چې په ارامه او طبيعي حالت کې حل کېږي، زياتی کړي او شدت ورکړي او د ډيپلوماسۍ د کلتور څخه ځان لرې وساتي.

خو له بلې خوا د افغانستان د اسلامي امارت درېځ د پارونکو او فتنه اچوونکو خبرو په مقابل کې اندازه شوی او د هېوادونو له ډيپلوماسۍ سره سمون درلود، او د هغه خلکو چې د اوبو له کمښت سره مخ دي د اسلامي ورورولۍ او پيوستون په فضا کې په متوازن ډول څرګند شوی دی. حقيقت دا دی چې له ايران سره د افغانستان د سرحدي ولايتونو وضعيت د ايران د سرحدي ولايتونو د وضعيت په پرتله خراب دی او په عين حال کې د افغانستان خلک او حکومت له ايران سره ښه چلند او ورورګلوۍ ته ژمن دي. د ټولنو بيړنۍ اړتيا او د دولتونو نړيوال مسؤوليتونه، د متقابلو نړيوالو حقونو د درناوي غوښتنه کوي او پر وړاندې يې هر ډول اقدام به داسې پايلې ولري چې په هر حکومت کې د چارو امانتداران ترې خبر دي. **پای**

**سرچينې**

1.بی بی سی: هشدار جدی رئیسی در باره حقآبه هیرمند، 1402\2\28 ، لینک:

https://www.bbc.com/persian/articles/c976300e84qo

2.طلوع نیوز: آب های زیر زمینی 50 درصد کاهش یافته است، 1400\10\18، لینک:

https://tolonews.com/fa/afghanistan-176219

DW.3: ملل متحد از بحران قریب الوقوع آب در جهان هشدار می دهد، 2\1\1402، لینک:

https://www.dw.com/fa-af/%D9%85%D9%84%D9%84-%D9%85%D8%AA%D8%AD%D8%AF-%D8%A7%D8%B2-%D8%A8%D8%AD%D8%B1%D8%A7%D9%86-%D9%82%D8%B1%DB%8C%D8%A8%D8%A7%D9%84%D9%88%D9%82%D9%88%D8%B9-%D8%A2%D8%A8-%D8%AF%D8%B1-%D8%AC%D9%87%D8%A7%D9%86-%D9%87%D8%B4%D8%AF%D8%A7%D8%B1-%D8%AF%D8%A7%D8%AF/a-65075908

4.غبار، میر غلام محمد، (1391)، افغانستان در مسیر تاریخ، انتشارات محسن، ص اول به بعد....

CSRS.5: مدیریت درست منابع برق...، 7\12\1401، لینک:



Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

https://csrskabul.com/?p=7781

DW.6: أزمة الماء: حقائق وأرقام، لينك:

https://www.dw.com/ar/%D8%A3%D8%B2%D9%85%D8%A9-%D8%A7%D9%84%D9%85%D8%A7%D8%A1-%D8%AD%D9%82%D8%A7%D8%A6%D9%82-%D9%88%D8%A3%D8%B1%D9%82%D8%A7%D9%85/a-2737205

7.دورسن یلدوز: اهمیت آب اسیای میانه در آینده، لینک:

https://www.hidropolitikakademi.org/uploads/wp/2015/05/%D8%A2%D8%A8-%D9%88-%D8%A7%D8%B3%D8%AA%D8%B1%D8%A7%D8%AA%DB%8C%DA%98%DB%8C-%D8%AC%D9%87%D8%A7%D9%86%DB%8C.pdf

8.ویکیپیدیا: هیرمند، لینک:

https://fa.wikipedia.org/wiki/%D9%88%DB%8C%DA%98%D9%87:%D9%85%D9%86%D8%A7%D8%A8%D8%B9_%DA%A9%D8%AA%D8%A7%D8%A8/978-964-445-105-8

9.متن؛ معاهده بین افغانستان و ایران راجع به آبرود هلمند ( هیرمند )، ص اول به بعد....

DW.10: ملل متحد از بحران قریب الوقوع آب در جهان هشدار می دهد، 2\1\1402، لینک:

https://www.dw.com/fa-af/%D9%85%D9%84%D9%84-%D9%85%D8%AA%D8%AD%D8%AF-%D8%A7%D8%B2-%D8%A8%D8%AD%D8%B1%D8%A7%D9%86-%D9%82%D8%B1%DB%8C%D8%A8%D8%A7%D9%84%D9%88%D9%82%D9%88%D8%B9-%D8%A2%D8%A8-%D8%AF%D8%B1-%D8%AC%D9%87%D8%A7%D9%86-%D9%87%D8%B4%D8%AF%D8%A7%D8%B1-%D8%AF%D8%A7%D8%AF/a-65075908

DW.11: یک چهارم جمعیت جهان با کمبود آب مواجه اند، 15\5\1398، لینک:

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

https://www.dw.com/fa-af/%DB%8C%DA%A9-
%DA%86%D9%87%D8%A7%D8%B1%D9%85-
%D8%AC%D9%85%D8%B9%DB%8C%D8%AA-
%D8%AC%D9%87%D8%A7%D9%86-%D8%A8%D8%A7-
%DA%A9%D9%85%D8%A8%D9%88%D8%AF-%D8%A2%D8%A8-
%D9%85%D9%88%D8%A7%D8%AC%D9%87-%D8%A7%D9%86%D8%AF/a-
49910976

BBC.12: افغانستان بحران کم آبی خشکسالی زراعت را به کجا می برد؟ 9\6\1397، لینک:

https://www.bbc.com/persian/afghanistan-45345336

13.خبرگزاری جمهوری اسلامی: مدیرکل ثبت احوال: سیستان وبلوچستان بالاترین نرخ ولادت کشور را دارد، 3\10\1401، لینک:

https://www.irna.ir/news/84978315/%D9%85%D8%AF%DB%8C%D8%B1%DA%A
9%D9%84-%D8%AB%D8%A8%D8%AA-
%D8%A7%D8%AD%D9%88%D8%A7%D9%84-
%D8%B3%DB%8C%D8%B3%D8%AA%D8%A7%D9%86-%D9%88-
%D8%A8%D9%84%D9%88%DA%86%D8%B3%D8%AA%D8%A7%D9%86-
%D8%A8%D8%A7%D9%84%D8%A7%D8%AA%D8%B1%DB%8C%D9%86-
%D9%86%D8%B1%D8%AE-%D9%88%D9%84%D8%A7%D8%AF%D8%AA-
%DA%A9%D8%B4%D9%88%D8%B1-%D8%B1%D8%A7

DW.14: رابطه میان آب و توسعه اقتصادی در افغانستان، 14\6\1391، لینک:

https://www.dw.com/fa-af/%D8%B1%D8%A7%D8%A8%D8%B7%D9%87-
%D9%85%DB%8C%D8%A7%D9%86-%D8%A2%D8%A8-%D9%88-
%D8%AA%D9%88%D8%B3%D8%B9%D9%87-
%D8%A7%D9%82%D8%AA%D8%B5%D8%A7%D8%AF%DB%8C-
%D8%AF%D8%B1%D8%A7%D9%81%D8%BA%D8%A7%D9%86%D8%B3%D8%A
A%D8%A7%D9%86/a-16218989

15.خبرگزاری جمهوری اسلامی: تحقق وعده رییس جمهورا حفظ چاه نیمه ها ...14\9\1400، لینک:

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

https://www.irna.ir/news/84565692/%D8%AA%D8%AD%D9%82%D9%82-%D9%88%D8%B9%D8%AF%D9%87-%D8%B1%DB%8C%DB%8C%D8%B3-%D8%AC%D9%85%D9%87%D9%88%D8%B1%DB%8C-%D8%AD%D9%81%D8%B8-%DA%86%D8%A7%D9%87-%D9%86%DB%8C%D9%85%D9%87-%D9%87%D8%A7-%D8%A7%D9%85%DB%8C%D8%AF%DB%8C-%D8%A8%D8%B1%D8%A7%DB%8C-%D8%B3%DB%8C%D8%B3%D8%AA%D8%A7%D9%86

16.ایسنا: 50 درصد چاه های آب سیستان وبلوچستان- 1397\3\6، لینک:

https://www.isna.ir/news/97030602630/50-%D8%AF%D8%B1%D8%B5%D8%AF-%DA%86%D8%A7%D9%87-%D9%87%D8%A7%DB%8C-%D8%A2%D8%A8-%D8%B3%DB%8C%D8%B3%D8%AA%D8%A7%D9%86-%D9%88-%D8%A8%D9%84%D9%88%DA%86%D8%B3%D8%AA%D8%A7%D9%86-%D8%BA%DB%8C%D8%B1-%D9%85%D8%AC%D8%A7%D8%B2-%D8%A7%D8%B3%D8%AA

.17 THE WORLD COUNTS: water, water everywhere.... but not.... link:

https://www.theworldcounts.com/stories/average-daily-water-usage

18.اطلاعات: ایران از افغانستان آب می خرد؟ 1402\3\6، لینک:

https://www.shahrekhabar.com/news/168516030014651

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز نادولتي، غير انتفاعي او خپلواک ارګان دی، چې په ۱۳۸۸ لمريز کال کې په کابل کې جوړ شوی. دغه مرکز د خپلو بې‌پرې او کره څېړنو له لارې، په افغانستان او سيمه کې د پاليسيو د ارزونې او بډاينې لپاره فعاليت کوي.

**اړيکه:**

ايميل: csrskabul@gmail.com info@csrskabul.com

وب سايت: www.csrskabul.net - www.csrskabul.com

شمېره: +93780618000 +93780618000

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)